مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۴/۰۱

# طبعی نظام...

څومره خوند چې له ژوندونه اخستی شي
اخله واخله، خو چی بل نکړی آزار

نعمتونه په دنیا کی دی پریمانه
هر مخلوق لره دانه، دانه په شمار

عدالت خو کتابونو کې دعوی کړي
که هندو که مسلمان دی که کفار

مگر نه گوري عمل چې چیرې درومي
له ازله تر دې دمه کج رفتار

چې له موره وي بدرنگه زیږیدلی
ترینه جوړه ناوکۍ شي په سینگار

څه عجیبه معجزه ده په خلقت کې
د زمري برخه غرڅه رسی په ښکار

بس زما دې دو پړکه درته سلام وي
ته به خوښ په خپل نظام یې، زه بیزار

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ